مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

# نوره مینه څنګه وي وطنه!

محمدیوسف "صابر- ساپی" ۲۰۲۴/۰۸/۰۵

ګیله من د لر او بر افغان ملت د یووالي ارمان له ځان سره خاورو ته یووړ. د واحد افغان ملت د «آن الحق» ناره چې ګیله من به د منصور په څیر په لوړه لوړه، په چیغو چیغو غږوله، اوس له هدیرې پورته کیږي، د افغان ملي بیرغ وړمې یې له قبره په ټوله پښتونخوا خپریږي.

ګیله من ددې سپیڅلي ارمان لومړنی قرباني نه دی او ښکاري وروستی به هم نه وي. د روښاني نهضت او د هغه پیروانو ایمل خان، دریا خان، خوشحال خان او د میرزاعلي خان ایپي فقیر د پلویانو له سرښندونکو مبارزو، د خدایي خدمتګارانو له جدو جهد څخه بیا د پښتون ژغورني غورځنګ پورې، بې شمیره سرونه پدې لاره کې غورځیدلي دي. « نوره مینه څنګه وي وطنه!». د پښتنو د آزادۍ او د افغان ملت د یووالي غورځنګونو د مبارزو لړۍ یو شمیر ځانګړنې لرلي دي، چې کره کتنه ورته ښایي د اوسني ملي غورځنګ د ستراتیژیکي لارې سمون له پاره خورا ګټور تمام شي:

- کښته پښتانه د ډیرو ډیرو قربانیو، بیسارو سرښندنو او جنګي وړتیاوو  سره سره، بیا هم تر دې دمه د یادوني وړ بریالیتوب ته نه دي رسیدلي. ناپلیون نظر درلود، چې یو الجزایري جنګیالی د درېو فرانسوي عسکرو څخه هم قوی دی، اما یوه فرانسوي فرقه دریو الجزایري فرقو ته ماته ورکوي. دا خبره د پښتنو په هکله هم صدق کوي، هر پښتون د درې مغولي، انګریزي او پنجابي عسکرو څخه په جنګي قوت بر دی، اما بیا هم محکوم دي، ولې؟ ځکه چې انسجام نه لري.

- مغولي، بریتانوي او پنجابي استعمار عام ولس د ښووني او روزني له نعمت څخه اګاهانه محروم ساتلی دئ، د همدې بیسوادۍ له کبله، عام ولس استعماري ضد جګړو کې شعوري ونډه نه، بلکې احساساتي برخه اخیستې ده. احساسات پیاوړې وسیله ده، اما په یواځې ځان د بشپړ بریالیتوب له پاره کفایت نه کوي.

- خپل منځي بې اتفاقي او تربګني په پښتنو کې عامه ده . دا بې اتفاقي د دښمن له لوري اګاهانه اچول شویده او د پښتنو په تحت الشعور کې یې ټینګ ځای نیولی دی. همدا یې د دښمن په مقابل کې ټول قوت اوبه کوي. خوشحال خټک وایي:

پښتانه به اتفاق سره ونه کا      که نه ما به د مغل ګریوان پاره کړ

- که د پښتنو د آزادۍ بخښونکو مبارزو لړۍ په دوو مرحلو وویشو، نو ویلی شو چې، د لومړي دور مشران یواځې په جګړه اییزه مبارزه ولاړ وو. د مغولي ناکردو په مقابل کې پیر روښان او اولادې یې، ایمل خان، دریا خان او خوشحال خان د پښتنو د جګړو مشري کړیده، میرزا علي خان ایپي فقیر د انګریزي استعمار په مقابل کې د پښتنو جګړې رهبري کوله. اما ددې ټولو بیسارو جګړو او سرښندنو سره سره بریالیتوب ته و نه رسیدل. د دوهم دور غورځنګ یواځې د عدم تشدد لاره غوره کړیده. خدایي خدمتګارانو او اوس هم د پښتون ژغورني غورځنګ ستراتیژیکي کړنلاره پر سوله ییزه مبارزه باندې ولاړه ده. د بریالیتوب څرک یې لا نه لګیږي.

- د برو افغانانو هڅې کله ناکله څینې بریالیتوبونه هم له ځان سره لري: یو ځل د میرویس نیکه په مشرۍ، بیا د احمد شاه بابا په قیادت او بیا د امان الله خان په رهبرۍ ټاکلو بریالیتوبونو ته ورسیدل، هغه هم بشپړ دوامداره او پایداره بریالیتوبونه نه ؤ. د افغانانو یو ګډ خصوصیت دادی، چې په خپلو منځونو کې د ټولو بې اتفاقیو سره سره، د خارجي تیریو په مقابل کې، د یو-نیم خائن او جاسوس پرته، ټول سره متفق دي او په ګډه جنګیږي. له همدې کبله د سترو قدرتونو ( برتانوي امپراتورۍ، شوروي زبر ځواک او د امریکا نړیوال ځواک ) تیري یې په بیساري میرانه پر شا تمبولي دي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

او د امپراتوریو د هدیرې لقب یې ګټلی دئ، همدا دوامداره تباه کونکي جنګونه یې د وروسته پاتي او غمیزو یو اساسي علت هم دئ.

پورتنی لنډ شالید د پښتنو او ټولو افغانانو د اوسني کړکیچن حالت صفا هنداره ده.

ددې ځغلنده کره کتني څخه د عبرت یو شمیر درسونه راویستلی شو:

۱ - د لرو پښتنو مبارزه د برو افغانانو د پیوستون او ملاتړ څخه جلا کوم بریالیتوب ته نه شي رسیدلی، همدارنګه د برو افغانانو جلا هڅې دوامداره او پایداره پایلې نه لري. د انګریزي منحوس ډیورنډ کرښې د یو واحد وجود ملا ماته کړیده، ترڅو د ماتې ملا علاج و نه شي، نه د وجود بر آرام موندلی شي او نه د وجود کښته روغ حالت پیدا کولی شي. د ګیله من د شهادت څخه د رامنځته شوې فضا په څیر، په تیر کې هم څو ځلې، د تقسیم شوي هیواد د بیرته یووالي امکانات رامنځته شویدي، اما لکه نن هم، د افغان حکومت د سازش کاریو او بې ظرفیتیو له کبله د یووالي په ځای نور هم بیلوالی راغلی دئ. د کوزې پښتونخوا د ملې ګوندونو مشرۍ هم، د پښتون ژغورنې غورځنګ پرته، د مرزانو په څیر سرونه په سوریو کې ننویستلي دي او دا یې د ځان او قوم د نجات لاره ګڼلې ده!

۲- سیاست د علم او فن په توګه د مبارزې ټول ډولونه په غیږ کې نیسي، یواځې په جګړو یا یواځې په سوله ییزه مبارزه سیاسي کامرانی نه ترلاسه کیږي. سیاست ښایي د سیاسي اصولو پربنسټ، نه د باورنو یا احساساتو په بنا په مخ یووړل شي. عدم تشدد د مبارزې خورا ستره انساني کړنلاره ده، چې ریال سیاست لا تر اوسه پورې دې کمال ته نه دی رسیدلی. هغه چا چې سوله ایيزه مبارزه د باور او عقیدې په توګه پکارولې ده لکه خدايي خدمتګارانو، هغوی په سیاست کې د مروج تشدد په مقابل کې ماته خوړلې ده. ګاندي او نیلسن ماندیلا د عدم تشدد څخه سیاسي استفاده کړیده، نه عقیدوي، ځکه نو بریالیتوب یې هم تر لاسه کړ. غفار خان په خپل کتاب « زما ژوند او جدو جهد» کې په خورا درد سره، په ځرګندو ټکو بیان کړي، چې په پای کې معلومه شوه، عدم تشدد زموږ باور وُ او د کانګرس سیاست... عقیده او احساسات کیدای شي د سیاسي مبارزو یوه پیاوړې وسیله وي، اما نه یواځنی وسیله. د عقیدې پر بنسټ بریالی سیاست مخ په وړاندې نه شی تللی، لکه خلقیانو چې د مارکسستي عقیدې ی سره سم کاوه، یا نن یې طالبان د « اسلامي عقیدې» په اساس پرمخ بیایي. دا داسې معنی لري، چې کیمیاوي تعاملات د فزیکي قوانینو په بنسټ سرته ورسوي... سیاست د شطرنج لوبه ده، په تیره بیا نننی جیوپولیتیک، چې په خپل ماهیت کې هماغه د کلاسیک استعمار د اومو توکو سیاست دئ. د شطرنج په لوبه کې هر څوک چې ښه سنجش کوي، زیرکانه چال سنجوي، هم هغه لوبه ګټي. تصادفي نه ده، چې برژنسکي خپل غوره اثر « د شطرنج ستره تخته» نومولی دی. د ریال پولیتیک سره سم، نړۍ د شطرنج لویه تخته ده او سیاستوال یې لوبغاړي دي.

۳- د نړیوالو قوتونو، سیمه ییزو ځواکونو او د هیواد دننني نیروګانو پر تله کولو او دقیق سنجش پرته هر اقدام د ماتې سره مخامخ دی او یا د موقتي، نسبي کامیابي باعث کیږي. که په پرمختللو هیوادونو کې د نړیوالې، سیمه ییزې او هیوادنی اوضاع مفصل تحلیل او ارزونه د ځانګړو انستیتوتونو له خوا په دقیقه توګه د ارقامو او فاکتونو په بنسټ سرته رسیږي او بیا سیاستوالو ته وړاندې کیږي او بیا د همدې ارزونې او ایډیاو پر بنسټ تصمیمونه نیول کیږي. افغان ملي نهضت ته هم ښایي هرومرو دا ډول یوه مرجع، د خپلو امکاناتو په چوکاټ او خپلې وسې سره برابر خلق کړي، چې په منظمه توګه د خپلو غوښتنو او هیلو په بنسټ نه، بلکې د ارقامو او فاکتونو په اساس، نړیوال قوتونه او لوبغاړي، سیمه ییز قوتونه او د ځواک اندازه یې او همدارنګه دننني لوبغاړي او د قوت اندازه یې په دقیقه توګه او عیني ډول وټاکي. د نړۍ، سیمې او هیواد د عیني وضعي له اوږد مهاله دقیقي ارزونې پرته هر اقدام او نه اقدام دواړه تباه کوونکي عواقب لري. د مثال په ډول، د خلک دموکراتیک ګوند مشرۍ ته د وخت د حکومت کمزورۍ ښه ځرګنده وه، د واکمنو د تیرې په مقابل کې یې مخکې له مخکې چمتووالی نیولی وُ. د میر اکبر خیبر د ترور وروسته رامنځته شوې وضع، چې د ګیله من د ترور سره په رامنځته شوې حالاتو کې ډیر ورته والی لري، د داود خان حکومت په ګوند حمله وکړه، مشران یې ورته بندي کړل، ګوند د مخکني چمتووالي سره په خورا آساني سره، د داود خان واکمنی ته د پای ټکی کینښود. اما لوبه پدې ځای پای ته ونه رسیده، بلکې لدې سره پیل شوه. د خلک دموکراتیک ګوند د نړیوالو او سیمه ییزو قوتونوسنجش


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

په درسته او دقیقه توګه نه درلود. د خلکو دموکرتیک ګوند په شوروي اتحاد پېده لګوله، هغه «ستر قدرت» چي په خپله يي د زوال مرحله طی کوله. دا ډول غلط سنجش، په ښکاره توګه، د ګوند او ټول ملت له پاره تراژيدي انجام ودرلود.

۴- شپ شپ ویل، چي د لر او بر زیاتره مشران يي کوي، څه ګټه نه رسوي، په زړورتيا او ښکاره د واحد ملت غړ پورته کول د هدف روښانتيا ښيي. هدف چي معلوم او څرګند وي،« ټولي لاري هدف ته رسيدلي دي»، هره لاره چي غوره او طی کړي هدف ته رسيږي. د برياليتوب له پاره د لر او بر يو ګډ نهضت، چي سياسي، مدني، نظامي، ښکاره او پټ سازمانونه ولري، هرومرو پکار دي. ګيله من د ډيرو نورو مبارزينو په خلاف، د ملنګ جان او منصور په دود، دا ناره په بيساري زړورتيا سره په جار غږوله او د ملنګ جان او منصور په سرنوشت اخته هم شو. بخت زاده دانش هم وايي: «...د قوم د بيداري ناره په جار وکړه قربان!»

۵- هغه تعليمي انقلاب، چي په نړيواله کچه روان دی، هرومرو ټول افغانان هم په غيږ کي رانيسي. د ولسونود تعليم او روښانتيا په لورهر اقدام د افغان ملت د يووالي په لور چټک ګام دی. دا ملت ګډ تاريخ او ګډ برخليک لري. په تير کي ډير له کښته پښتانه د پورته پښتنو له حال او احوال څخه ناخبره ؤ، برو ولسونو سره ددې چي د کوزو پښتنو سره يي هميشه ملنګجاني خواخوږي ښودلي، اما واکمنو کړيو، لکه ننيو، د خپلو غلطو باورونو، محافظه کاريو او مجبوريتونو له کبله د کوزو پښتنو مبارزې يواځي سرنوشت ته پريښي او جفاکارانه چلند يي لرلی دی.

اوس اوس افغان محوره ملي نهضت په کوزه پښتونخوا کي خپل اوج ته رسيدلی دئ او هغه هم په ځوان نسل کي، چي دي ارمان ته د رسيدو له پاره ډيره انرژي او ډير وخت په اختيار کي لري. برخلاف ددې، په بره کي بيا ريښتيني ملي مفکوره په هغو سازمانونو او ګونديکو کي پاتي ده، چي غړي يي زياتره مسنه خلک دي، دا په خپله کمزوري ده. په منسجمو تنظيمونو کي يواځي د طالبانو په تحريک کي زياتره ځوانان دي، چي ملي روحيه په کي د اسلامي روحيي په مقابل کي فرعي ځای لري.

لدې سره، د پاکستان دولت د خورا متناقض حالت سره مخامخ دی. <u>يوې خواته</u>، د استخباراتي اداري په شمول، ټول پوځ د هيواد ټولواک دی، چي په خورا مرموزه توګه د انګليس او غرب له خوا اداره کيږي، د پوځ مشران همله روزل کيږي، آن يو شمير يي مخامخ عيسوي او يهودي ميسونران دي (لکه قمر باجوه ، چي په کليسا کي د عبادت په حال کي د يو افغان له خوا بې آبه شو) او له هغه ځايه ټاکل کيږي، يو شمير يي د انګريزي افسرانو د پنجابي وينځو اولاده ده. دا دومره پستي او بې رحمي هم له همدغه ځايه سرچينه اخلي. د پوځ وسلي، تخنيک او تجهيزات ټول له غربه اماده کيږي، د اتومي وسلو صلاحيت يي هم همله دئ. دا پوځ، د سيد عالم مسعود په قول، هماغه د برتيانوي هند پنجابي اجير رنجيمنت دی چي په عربي ملکونو کي د عثماني امپراتورۍ په ضد د جګړو له پاره جوړ شوی ؤ او بيا پاکستان ته په ميراث پاتي شو او د پاکستان پوځ تري جوړ شو. <u>بلې خوا ته</u>، د پاکستان ملکي واکمنی ده، چي د شانګهای د کلوب اصلي غړی دئ، هغه کلوب چي د غرب اساسي رقيب ګرځيدلی دئ، د چين سره په اړيکو کي دومره وړاندې تللی ده، چي آن ګوادر بندر پوري يي ټولي لاري ورته په اختيار کي ورکړي دي او تر ستوني پوري يي په پوروونو کي ډوبه ده. د امريکا- انګليس او چين په ننني رقابتونو کي د پاکستان د پوځ او ملکي واکمنی د لورو اختلاف د پاکستان د سرنوشت اساسي تناقض جوړوي. ددې تناقض حل نه د امريکا، نه د چين او نه هم د پاکستان په اختيار کي دئ. يواځي د نړيوالو سياسي-اقتصادي لوبو طبيعي بهير به ددې تناقض سرنوشت ټاکي.

راځئ يوه پلا، د فرانسوي ټولنپوه( امانوئيل تود) د وړاندويني سره سم تصور وکړو چي امريکا د خپل ټول ننداره يي نظاميګري او ديپلماتيک قوت سره سره، د رواني پيړی تر نيمايي پورې به نور يو نړيوال ځواک نه، بلکي د امريکا په وچه کي به يو سيمه ييز قدرت وي، پدې صورت کي به د پاکستان سرنوشت او پدې کي به د پښتنو برخليک څه ډول بڼه غوره کوي!

د متحده ايالتونو « ستر اقتصاد» نن له توليديت څخه خالي شويدی، ټول ځای يي په نړۍ کي د چين توليداتو نيولی دئ. په جغرافيوي لحاظ هم، امريکا زموږ له سيمي څخه ليرې پرته ده، اما چين زموږ په سر ولاړ دئ. د همدغو خودي ټولنيزو- اقتصادي لوبو په پايله کي، امريکا لدې سيمي ورو ورو به شا کيدو ته اړ کيږي او ورسره د پاکستان تړلی پوځ هم بايد خپل بار او بستر د پناه په لور وتړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

په دا ډول نړیوالو او سیمه ییزو لوبو کې، ښايي افغان ملي نهضت د خپلې خاورې او خپلو خلکو برخلیک په خپل لاس نیولو ته شعوري مخکې له مخکې چمتووالی ونیسي.

د پښتنو د آزادۍ او یووالي د لارې اساسي خنډونو سپړنه، موندنه او بیایې لیرې کولو له پاره مبارزه د بریالیتوب حتمي شرط دئ. ددې خنډونو په ګوته کول خورا جدي، هراړخیزې او ژورې څیړنې ته اړتیا لري، چې ښايي ټول د نظر خاوندان په کې د زړه له کومې برخه واخلي. زه خپل نظر پدې اړه شریکوم.

د پښتنو د آزادۍ او یووالي د لارې اساسي خنډونه:

۱- د پښتنو د ازادۍ او یووالي اساسي او غوره خنډونه دننني او خپل منځي دي. تر ټولو دمخه، د عام ولس خپل منځي دښمني او تربګني او همدارنګه د سیاسي ډلو ترمنځ د ملي ګټو په خلاف سلیقوي رقابتونه او محافظه کاري د پښتنو ټول قوت په اوبو لاهو کوي، د مکار دښمن سره د مقابلې توان په کې نه پاتې کیږي. تر هغه چې لومړی د سیاسي ډلو ترمنځ د ملي ګټو په سر شعوري جوړ جاری و نه شي، تر هغه به د خپلواکۍ لمر هم و نه ویني. په افغانانو کې د ملي شعور کچه، چې د ټولې خاورې او ټول مملکت په هکله، د ملي ګټو او تاوان په هکله سوچ کولای وشي، خورا ټیټه ده. افغانستان د یو دولت په څیر، همیشه په هر لحاظ خورا کمزوی ؤ: داود خان د څو افسرانو په ملتیا په ظاهر شاه پاچاهي واړوله، یو موټی خلقیانو داود خان راچپه کړ... امریکایانو د څو لنډغرو په مرسته د طالبانو لومړۍ واکمنۍ په یوه شپه کې له منځه یوړه... اما افغان د یو ملت په څیر د نړۍ د خورا پیاوړو، ګوتو په شمار ملتونو په کتار کې ودریږي. دومره ستر ګوزارونه چې یواځې زموږ د سترګو په وړاندې دا ملت وخوړل، که په بل هر ملت وارد شوي وای، ښايي د ځمکې له کرې څخه به نابود شوی وای. هند په خپل هومره ستروالي سره کلاسیک استعمار ته سر ټیټ کړ. د المان ملي غرور چې ګنې آسمان په ډبرو ولي، یواځې د انګلیس، امریکا، فرانسې او روس د ګډو ضربو لاندې دوه پړقې شو، مګر چې په خپل لوړ ملي شعور سره بیرته یووالي ته ورسیدل. یواځې افغان ملت ؤ چې د بریتانیا استعماري غرور یې په خاورو ولړه، یواځې افغان ملت ؤ چې ستر شوروي یې ورته په پښو کې ولویده او دا یواځې افغان ملت ؤ چې د څلویښتو دولتونو اتحاد هم ورڅخه په تیښته وتښتیدل... هر ملت د خپلو تاریخي او فرهنګي ریښو په اندازه، لکه د ونو ریښې، هماغسې پیاوړی وي او په همدغو ریښو سره د توپانونو په مقابل کې مقاومت کوي. چا ویل چې افغانان فرهنګ نه لري او د زرګونو کلونو تاریخ یې هسې خبرې دي!.. د ایراني تاریخپوه ناصر پور پیرار په ستره تاریخي علمي پانګه کې وګورئ، چې افغان ملت ته یې د څومره درناوی سر ټیټ کړی دئ. د عربي اسلامي هیوادونو عادي وګړو سره د زړه خواله وکړې، چې زموږ د عصر فرعونیانو په مقابل کې د افغانانو په مقاومت څومره ویاړي! افغان ملت هم د نورو ملتونو په څیر خپل تاریخ او فرهنګ لري، یواځې دومره دئ چې تاریخ یې خورا جعل شوی او فرهنګ یې نه دی څیړل شوي.

افغانان په خپله خاوره میندان دي، خپل سرونه پرې ښندي، اما د افغانانو مشکل د ملي شعور کمبود دئ. دا ستونزه په فیوډالي نظام کې او تر زیاتې اندازې په قبیلوي او قومي طرز ژوند کې نغښتې ده، ځمکه وال د وطن په سطحه فکر نه شي کولی، د هغه خاوره یواځې د خپل جایداد په پولو کې محدوده ده. د استعماري میراث په توګه راپاتې قبیلوی او قومي دښمني افغانان نه پریږدي چې غیر له جنګه په اقتصاد او نورو برخو کې هم د نړۍ نورو ملتونو سره سیال شي او همدا اقتصادي وروسته پاتې والی یې د نورو ټولو مشکلاتو مور ګرځي. د یوې مدبرې سیاسي مشرۍ لاندې دا دښمنی په خورا آساني سره په سالمې سیالۍ اوښتلی شي او همدا سالمه سیالۍ د هیواد د ژوندانه په ټولو ساحو کې د بیساري تحرک باعث کیدلای شي.

۲- د خپلې ژبې کم بهایي د پښتنو ملي هویت ته تر دښمن هم زیات تباه کونکی تمام شویدی. په میلیونونه پښتانه په بره، کښته او هند کې خپله ژبه پریښې ده. د بنګله دیش ازادی بخښونکی ملي غورځنګ په ابتدأ کې د خپلې ژبې ساتنې غورځنګ په څیر رامنځته شو او بیا په ازادي بخښونکي غورځنګ واوښت. ملنګ جان په خپل فطري او الهامي نبوغ سره د خپل ژوند په وروستي ناتمام شعر ( د افسوس جنون) کې، د پښتنو د برخلیک دوه خورا غوره او تباه کونکې ستونزې په درد او فغان سره طرحه کړیدي:

- د پښتو ژبې هیرول او پریښودل یې ملي خیانت ګڼلی دئ، هغه پښتانه چې پښتو ژبه یې هیره کړې ده، پدې بهیر کې غیر ارادي شریک ګڼي. ملنګ جان وایي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

هر سړي ته چې ودرېږم وی افغان یم　　خاص لمسی د احمدشاه او خوشحال خان یم

د خوشحال په پښتو ژبه نه پوهیږي　　بله ژبه کې طوطي غوندې غړیږي

زه دا هسې افغانیت ته حیرانیږم　　حیران څه، خدایږو ژړا راځي ژړیږم

چې افغان په خپله ژبه نه پوهیږي　　نم د سترګو مې شیبه شیبه بهیږي

یو غریب که خیانت وکړي زیات او کم　　په جزا باندې محکوم شي هغه دم

دې ملي خیانت ته نشته د چا خیال　　راته وایه دا ثواب دی که وبال

- د سیاسي شیخانو له خوا د ریښتینې قرآني عقیدو په ځای، د خورا غلطو باورونو تلقین د پښتنو څخه په ژوندانه مړي جوړ کړیدي:

یو خوغرق کړو ځینوځینو شیخ صاحبانو　　وایي درې ورځې ژوندون دی عزیزانو

د دنیا کارونه واړه دي نیمګړي　　په ژوندون یې پښتنو نه جوړ کړل مړي

۳ – په کښته پښتونخوا کې د پښتو ډرامې د ګل خان څوکیدار د رول سره سم، یو څو تنه نه، د سیاسي ګوندونو په شمول، یو ګلخاني قشر رامنځته شوی دی، د امتیازاتو په سر کې ولاړ دي او د ملي-آزادیبخښونکي مبارزې د حرکت په مخ کې د خنډ (مانع) رول لوبوي. په افغانستان کې همدې ته ورته یو بوقلمون قشر په سیاسي صحنه کې خورا فعال دئ، چې د څلورو لسیزو په بدلونونو کې همیشه د واک په لوړه کې پاتې شویدی، ملي ارمانونه ورته بشپړ پردي دي.

۴ – د پښتنو د ازادۍ او یووالي د غورځنګ په مخ کې د د دننیو خنډونو سربیره، بهرنی علت هم شته دئ. د پاکستان دولت، چې د اسلام په نامه د اسلام په ضد د بریتانوي استعمار راپاتې میراث دئ، د پښتنو د ازادۍ او یووالي غوره خنډ دئ. هماغسې چې پښتانه په ټول هند کې د بریتانوي استعمار په ضد د آزادیبخښونکي پاڅون محرک او د اسلامي غورځنګ سرلښکر ؤ، د پنجابي چارواکو د ستر ګو خار هم هماغه پښتانه دي. د پاکستان واکمنو د انګریزانو په ادامه د پښتنو د ټکولو له پاره له ټولو وسایلو (Hard power) او (Soft power) څخه استفاده کړیده. د دولتي هدفمنده تروررونو، وژنو، زندانونو سربیره، پښتو ژبه او د پښتنو تاریخ یې په پښتونخوا کې له درسي نصابه ویستلې دي.

ددې خنډونو له منځه وړلو پرته افغان ملي نهضت قوت نه شي موندلی او بریالیتوب ته نه شي رسیدلی. د ملي مبارزې اولیتونه ښایي له همدې ځایه وټاکل شي:

- د ټول هیواد په کچه د ملي شعور وده د ملي یووالي حتمي شرط دی. ددې له پاره په ولس کې د ښوونې او روزنې عامول اساسي رول لري. د ولس د لوړ ملي شعور پرته ملي واکمنۍ ممکنه نه ده او د تعمیم شوي تعلیم پرته ملي شعور شتون ناممکنه دئ. نن اسلامي امارت هغه خنډونه، چې د باندینیو خود غرضو کړیو په اګاهانه لمسون، یا په خپلو غیر شعوري باورونو سره، په هیواد کې د تعلیم د عامولو په مخ کې اچوي، د هیواد ملي واکمنۍ له پاره یې تباه کونکي عواقب نه شي سنجولی. لدې سره د هیواد اقتصاد اوږدمهاله د ګاونډیو سره له سیالۍ څخه لویږي، ځکه اقتصاد ډیرو کدرونو ته اړتیا لري. د هیواد روښان آندو ته پکار ده، چې دې نتیجې ته ورسیږي، چې نور د یو سیاسي شخصیت، سیاسي سازمان یا واکمنانو د بشپړ ملاتړ یا بشپړ مخالفت څخه لاس واخلي. ددې په ځای ښایي د هغو ټاکلی عمل په ملاتړ یا مخالفت ودریږي. په هیواد کې د سیاسي چلند دود همدا دئ، چې یا بشپړ ملاتړ دئ یا بشپړ مخالفت. دا د واکمنانو د سردرګمي او د هیواد په کچه د سیاسي بې ثباتی باعث کیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- د ملي ژبې پراختيا او عوامول د ملي هويت غوره زمينه ده. که پښتنو په خپله «د مړي خيتي پاړسي» ته مخه نه واى کړي، داسي هر کس او ناکس به هم زموږ وياړلى افغاني ملي هويت ته د سپکاوي جرئت نه واى کړئ! پښتو يواځي ژبه نه ده، په هغه کي زموږ ټوله فرهنګي شتمنى پرته ده، دومره بډايه شتمنى، دومره ژوري معنوي ريښي لري، چي پرديو ته لا څه کوي، په خپله پښتنو ته هم د درک وړ نه دي. څومره بي وقوفه سوداګر دي، چا چي خپله ژبه پريښي ده!

- سياسي ګلخانان او بوقلمونان بايد د سياست له صحني څخه وويستل شي. په کښته پښتونخوا کي د ګلخانيانو قشر او په بر افغانستان کي ابن الوقته قشر د ګوښه کولو پرته د برياليتوب او يووالي امکانات نه ليدل کيږي. ښايي ددې قشر ليکي تر دوامداره څارني لاندي ونيول شي او تر ممکنه حده د ملي يووالي غورځنګ ليکي تري پاکي وساتل شي او په ټولنه کي د يو سپک قشر په توګه ګوښه کړاى شي.

- تر ټولو دمخه د آزاديخښونکي نهضت د مخکښانو لکه د ګيله من، عارف وزير، عثمان لالا، ارمان لوني، مشعل، نقيب مسعود... هدفي دولتي ترورونو د مخنيوي له پاره بايد چاره سنجي وشي. د خدايي خدمتګارانو مخکښان هم ترورېدل، دا ډول وژنو د مخنيوي له پاره غني خان د پښتني ځوانانو وسله واله ډله جوړه کړه او خپل پلار غفار خان، د عدم تشدد کرښلارى ته د وفاداري په خاطر، يې مخه ونيوله، اوس هم د هدفمنده وژنو مخنيوي له پاره بايد يوه چاره وسنجول شي، که نه د خدايي خدمتګارانو په څېر او د مهاجرو د پياوړي نهضت په څېر به د هرومرو ناکامى سره مخامخ کيږي. په روسيه کي د اکتوبر انقلاب وروسته انقلاب ضد ځواکونو د بلشويکي مشرانو د وژنو په موخه په «سپين ترور» لاس پوري کړ. يو وحشت يې برپا کړى وُ. څه موده وروسته بلشويکانو هم ددې په ضد « سور ترور» اعلان کړ. د هر بلشويکي مشر د ترور په بدل کي يې د سپيني اردو معادل مشر وژه. لدې وروسته انقلاب ايله ايله ساه واخيستله.

- د اوسنى پيچلي وضعي څخه په استفاده، د دوکتور محمد عثمان تره کي د وړانديز سره سم، ملګرو ملتونو څخه د کښته پښتنو د سرنوشت په مورد د يو ريفرندم غوښتنه ضرور ده. په ننني اسلامي امارت کي نه دا صلاحيت شته او نه هم دا ظرفيت. ددې ابتکار ښايي د پښتون ژغورني غورځنګ مشرى په غاړه واخلي. ددې امکان شته چي ملګري ملتونه د انګلو-ساکسون ګلوبال سيستم د يو سازمان په توګه، پدې وړانديز هيڅ خپل غوږ، و نه ګروي، ځکه چي د پښتني وطن-ناموس سره دا بدرفتاري له همدې ادرسه شويده، اما بيا هم لکه د لومړي جعلي ريفورنډم په څېر، د جعل کاريو د ټولو امکاناتو سره سره، بيا هم د ستونزې د سوله ييز حل له پاره تر ټولو غوره لار ده.

پدې ډول، د ريښتيني ملي افغاني غورځنګ د بشپړ برياليتوب له پاره د پښتنو او ټولو افغانانو استعماري ضد مبارزو ځانګړنو ته په ژور پام سره او د هغو څخه د ټاکلو عبرت در سونو اخيستل خورا ضروري او حتمي کار دئ. سربيره پردې د پښتنو د آزادى او د ټولوافغانانو د يووالي په مخ کي د پرتو خنډونو راسپړل او د منځه وړلو له پاره يې اګاهانه ستراتيژيک پلانيزه اقدامات هرومرو پکار دي. د رواني پيړى تر نيمايي پورې شل - پنځه ويشت کاله، د يو بشپړ ملت د برخليک ټاکلو له پاره، يو مدبرانه او موفقانه ټولنيز-سياسي اقدام ته، ډير وخت نه دئ، اما له پير روښانه تر ننه پورې څلور پيړى ( د دراني امپراتورى د دورې پرته) بې سرنوشته ژوند خورا ډير ضايع وخت دئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزى بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ